# په تبعید کې د افغان خبریالانو د فدراسیون تحلیلي راپور

په هېواد کې د جمهوري نظام د سقوط دوه کاله پوره شول چې موږ د ټولنیز ژوند په ټولو برخو کې د ډول ډول ناوړه تغیراتو شاهدان وو.
د طالبانو د رژیم په راتګ سره د خلکو ژوند ګډوډ شو او یو زیات شمیر یې د خپلو کورونو او کارونو پرېښودو ته اړ شول.
د طالبانو بیا راتګ او واک ته رسېدلو هېواد ته بې شمېره بدبختۍ راوستې ، د ښوونځیو او لوړو زده کړو د موسسو دروازې د زده کوونکو پر مخ وتړل شوې ، ښځې په کورونو کښېنول شوې او د ملي او نړیوالو بنسټونو پر فعالیتونو محدودیتونه ولګول شول.
په هېواد کې د رسنیو فعالیتونه محدود شول ، د رسنیو د کارکوونکو او خبریالانو په وړاندې د طالبانو له تاوتریخوالي ډکو کړنو له امله ډېر شمیر خبریالانو هېواد پرېښود او هغه خبریالان چې په هېواد کې پاتې دي ، اړ دي چې د طالبانو ځېړرو ته مخ ونیسي او د هغو د خوښې مطابق کار وکړي.
د بیان ازادي او اطلاعاتو ته د لاسرسي حق چې نسبتاً په تېرو شلو کلونو کې په هېواد کې ځای درلود ، د طالبانو په رژیم کې یې مفهوم او مانا له لاسه ورکړې ، ځکه دوه کاله کېږي چې په هېواد کې د بیان د ازادۍ زندۍ ده او ساه نشي اخیستلای.
له ۲۰۰۱ کال راهیسي او د طالبانو د تېرې دورې حکومت له ړنګېدو وروسته ، په هېواد کې رسنیو د پام وړ وده وکړه ، چې دا د جمهوري نظام د سترې لاسته راوړنې په توګه یادولای شو. خو دا لاسته راوړنه لنډمهاله وه ، طالبانو یو ځل بیا پر هیواد له واک وروسته دغه لاسته راوړنه په بشپړه توګه له منځه یوړله.
د موقت حکومت ، ورپسې د انتقالي حکومت او وروسته د انتخابي جمهوري حکومت پر مهال د ازادو رسنیو د فعالیتونو لپاره یو ستر چارچوب جوړ شو او د جمهوري نظام تر پای ته رسېدو پورې په هېواد کې د فعالو رسنیو شمېر ۵۹۷ ته رسېدلی و ؛ خو د جمهوري نظام له ړنګېدو وروسته د دغو رسنیو پنځوس سلنه فعالیتونه د ناوړه کاري شرایطو ، اقتصادي ، سیاسي ، ټولنیزو ، فرهنګي ننګونو او د طالبانو د ګواښ له امله ودرول شول.
د هېواد په مرکز او ولایتونو کې د یو شمېر رسنیو په تړل کېدو سره یو شمېر خبریالانو او د رسنیو کارکوونکو خپلې دندې له لاسه ورکړې او له هېواده وتلو ته اړ شول او دې مسلې د هېواد پر رسنیو ناوړه اغېز کړی دی.
په تېرو دوو کلونو کې ۵۰ سلنه ټلویزیونونو ، ۴۸ سلنه راډیوګانو ، ۶۰ سلنه ورځپاڼو او ۸۰ سلنه انلاین رسنیو خپل فعالیتونه بند کړي دي.

د طالبانو له خوا پر رسنیو وضع شوي ناوړه شرایط او محدودیتونه د دې لامل شول چې په هېواد کې یو شمېر رسنۍ خپل کارونه محدود کړي پر ځان سانسور ومني. دا مسله په هیواد کې د ژورنالیزم او رسنیو پر فعالیت ناوړه اغیزې لري.

په رسنیو کې د ځان سانسورول د دې لامل شوي چې طالبان د رسنیو او خبریالانو په وړاندې ورځ تر بلې محدودیتونه وضع کړي او د نړیوالې ټولنې او هغو هېوادونو له سترګو پناه شي چې د رسنیو او د بیان د ازادۍ ملاتړ کوي.

حالات دې ته راغلي دي که کوم خبریال یا رسنۍ د طالبانو له لګول شویو بندیزونو لږه سرغړونه هم وکړي نو د طالبانو له توند او قهرجن غبرګون سره مخ کېږي.

په افغانستان کې خبریالان د ورځنیو پیښو د پوښښ په وخت د خوندیتوب له جدي امنیتي ننګونو سره مخ دي.

د تېر نظام پر مهال هم خبریالانو ته ډېر ګواښونه د طالبانو له لوري متوجه ول. په تېرو ۲۰ کلونو کې د هېواد رسنیو د طالبانو او داعش په بېلابېلو پېښو او بریدونو کې ۱۵۰ خبریالان له لاسه ورکړي چې یوازې شل تنه یې په وروستیو دوو کلونو کې قرباني شوي دي.

د طالبانو او د هغوی ملاتړ کوونکو ترهګرو ډلو له خوا د ګواښونو مسله یو له هغو سترو ننګونو څخه ده چې اوس مهال د خبریالانو پر سر لکه د ایستلې تورې راځړېږي او د دوی روحي سکون یې ترې اخیستی دی.

په تبعید کی د افغان خبریالانو فدراسیون له خوا راټولو شویو شمېرو له مخې ، د ۲۰۲۱ کال د اګست تر ۱۵مې پورې ، د هېواد په بېلابېلو رسنیو کې ۱۱۸۵۶ تنه نارینه او ښځینه خبریالانو او د رسنیو کارکوونکو کار کاوه.

له یادو شویو کسانو یې ۷۷٤٦ تنه خبریالان او ٤۱۱۰ تنه یې د رسنیو نور کارکوونکي وو.

د یادونې وړ ده چې د دوی له ډلې یې ۲۱۳۸ ښځینه خبریالانې او ٥٦۰۸ یې نارینه خبریالان وو.

په هېواد کې د یو شمېر رسنیو د تړل کېدو له امله یو شمېر خبریالانو او د رسنیو کارکوونکو غیر مسلکي کارونو ته مخه کړې او ځینو یې د کډوالۍ لاره خپله کړې او له هېواده وتلي دي.

دا مهال د هېواد په ۱۷ ولایتونو کې ښځینه په رسنیو کې کار نشي کولای. ځینو ولایتونو کې چې ښځینه په محدودو رسنیو کې د کار اجازه لري ، داسې شرایط او محدودیتونه یې ورته وضع کړي چې ښځې نشي کولای خپل رسنیز فعالیت په غونډو او جلسو کې وکړي. ښځینه خبریالان او د رسنیو کارکوونکي د غونډې ځای ته نه پرېښودل کېږي او په یوه ځانګړې خونه کې یوازې د ویناوالو غږ اورېدلای شي.

د لاسته راغلیو شمېرو له مخې اوسمهال د افغانستان په بېلابېلو رسنیو کې ۲۰۰۰ کسان د خبریالانو په توګه کار کوي چې یوازې پنځه سلنه یې ښځینه خبریالانې دي.
خبریالان د معلوماتو سرچینو ته د لاسرسي په برخه کې ستونزې لري او ځینې وخت دولتي سرچینې ورته د معلوماتو له ورکولو ډډه کوي چې دې مسئلې په هېواد کې د خبریالانو کار له جدي ننګونو سره مخ کړی دی.
په هېواد کې د طالبانو د استخباراتو د ریاست له خوا د خبریالانو د نیولو ، شکنجه کولو ، بندي کولو ، سپکاوي او نورو بې رحمانه فشارونو لړۍ دوام لري چې په تېرو دوو کلونو کې د دغې ادارې له خوا په لسګونو خبریالان په بېلابېلو پلمو نیول شوي او شکنجه شوي دي.
د ۲۰۲۱ او ۲۰۲۲ کلونو په پرتله په روان کال کې د خبریالانو پر وړاندې د طالبانو د تاوتریخوالي ګراف لوړ شوی او لږ تر لږه ۱۴ خبریالان او یو د راډیو د امتیاز خاوند همدا اوس هم د طالبانو په بند کې دي ، چې برخلیک یې معلوم نه دی.
د روان کال د اپریل په میاشت کې مورږ په بلخ ولایت کې د یوې چاودنې شاهدان وو چې دوه خبریالان پکې ووژل شول او ۹ نور ټپیان شول.
روان وضعیت او د خبریالانو پر وړاندې د طالبانو کرغېړنو کړنو د هېواد د رسنیو په کورنۍ کې اندېښنې راپارولي او دې کار په هېواد کې د رسنیو رکود ته لاره هواره کړې ده.
د طالبانو له خوا د خبریالانو او د رسنیو د کارکوونکو په قصدي توګه د نیولو ، ځورولو ، ګواښلو او توهین لړۍ ورځ په ورځ زیاتیږي او دې کار د خبریالانو کارونه او فعالیتونه کمزوري او محدود کړي دي.
په هېواد کې د رسنیو د فعالیت او ژورنالیزم اوسني وضعیت ته په کتو ، په راتلونکي کې د زیاتو رسنیو د تړل کېدو احتمال شته.
په دې توګه د هېواد له ۵۹۷ رسنیو څخه دا مهال ۳۸۴ رسنۍ فعالې او ۲۱۳ رسنۍ غیر فعالې دي.
د رسنیو ډول ته په کتو دا مهال په هېواد کې د رسنیو وضعیت په لاندې توګه دی:
په هېواد کې له ۱۳۱ ثبت شویو ټلویزیونونو یې ۸۳ فعال او ۴۸ یې غیرفعال دي.
د غږیزو رسنیو په برخه کې د ۳۵۱ راډیوګانو له ډلې یې ۲۴۶ فعالې او ۱۰۵ یې تړلې شوې.
په هېواد کې د ۵۹ چاپي رسنیو له منځه دا مهال یوازې ۲۴ رسنۍ فعالې او ۳۵ نورې یې غیرفعالې دي.
په افغانستان کې د ۵۶ خبري اژانسونو له ډلې دا مهال ۳۱ خبري اژانسونه فعال او ۲۵ نور یې تړل شوي.
په ایران کې د افغان خبریالانو ستونزمن ژوند!
د جمهوري نظام له ړنګېدو وروسته یو زیات شمېر خبریالان د سختو امنیتي ګواښونو او د طالبانو له خوا د غیرقانوني ځورونو او شکنجې له وېرې ایران ته وتښتېدل چې هلته خپل ژوند ته دوام ورکړي.

د تېرو دوو کلونو په جریان کې د رسنیو د ملاتړ هېڅ یوه بنسټ د دغو خبریالانو حال نه دی اخیستی او نه یې چا ستونزو ته پام کړی دی.
دغلته د ډېری ژورنالیستانو ویزې پای ته رسیدلې دي او ځیني یې بېخي ویزې نه لري.
په خواشینۍ سره ویلای شو ، چې په دې هېواد کې پر یوې ښځینه خبریالې د ډله ییز جنسي تیري قضیه ثبت شوې ده ، چې خورا د افسوس وړ ده.
که څه هم په ایران کې میشتو افغان خبریالانو په فردي او ټولیزه توګه خپلې ستونزې له رسنیو څخه د ملاتړ له یو شمېر بهرنیو بنسټونو سره شریکې کړې ، خو د هېڅ یوې ادارې له خوا ورته مثبت ځواب نه دی ورکړل شوی.
په ایران کې مېشت افغان خبریالان له بېکارۍ ، اقتصادي او ټولنیزو ننګونو او د ډیپورټ (بیرته افغانستان ته د اخراج) له خطر سره مخ دي.
ډېری افغان خبریالان د قانوني اسنادو د نشتوالي له امله د ایران په ځینو ښارونو کې په پټه توګه ژوند کوي.
د دغه هېواد د پولیسو له خوا د لګول شویو بندیزونو له امله ډېری افغان خبریالان خپلو ورځنیو اړتیاوو د پوره کولو لپاره په ازادانه توګه کار نه شي کولای ، چې دغې چارې خبریالان له ذهني او رواني ستړیا سره مخ کړي.
د دې احتمال شته چې ځینې خبریالان او د هغوی د کورنۍ غړي د رواني ، اقتصادي او ټولنیزو ننګونو له امله په نشه یي توکو روږدي شي ، د بدن غړي وپلوري او یا هم ځانوژنه وکړي.
د ۲۰۲۱ کال په اګست کې د هېواد د وضعیت له بدلېدو وروسته په افغانستان کې د ژوند د شرایطو د سختېدو له امله شاوخوا شل تنه خبریالانو د امنیت او د کار د فرصتونو په لټه کې ترکیې ته روان شول.
خو دغو ژورنالیستان نه یوازې دا چې په دغه هېواد کې یې سکون نه دی حاصل کړی ، بلکې له بې شمېره ننګونو او ستونزو سره هم مخ شوي چې لا هم له ستونزو سره لاس و ګرېوان دي.
د اقامې نه مصئونیت ، وزګارتیا ، او د پولیسو له خوا د موقتې اقامې له امله پر خبریالانو محدودیتونو په دغه هیواد کې د دوی د ژوند له کړاوونو ډک کړی او حتا دا خبریالان په خپل شاوخوا کې له عادي تګ راتګ هم بې برخې دي .
د ترکیې د امنیتي ځواکونو له و د وضع شویو تدابیرو له امله په دغه هېواد کې اوسېدونکي افغان خبریالان نشي کولای چې خپل ژورنالستیکي فعالیت وکړي. له همدې امله دوی اړ دي چې د ژوند د اړتیاوو د پوره کولو لپاره شاقه کارونو ته مخه وکړي.

د اقامې د نېټې پای ته رسېدو او بيرته افغانستان ته ستنېدو اندېښنه يو له هغو ننګونو نه ده چې دغه خبريالان يې له ذهني ستړيا سره مخ کړي.

اقتصادي ننګونې ، ټولنيزې ستونزې ، د UNHCR په دفتر کې د کډوالو نه منل او د هغوی د دوسيو نه څېړل په ترکيه کې د خبريالانو پر وړاندې جدي ستونزې دي.

په دغه هېواد کې مېشت خبريالان په داسې حال کې چې د بيان له ازادۍ او د رسنيو ملاتړو سرچينو او بنسټونو ته يې په پرلپسې توګه غوښتنليکونه ورکړي ، خو لا هم نه دي توانېدلي چې د خپل برخليک د ټاکلو لپاره مثبت ځواب او د خوښې وړ پايله ترلاسه کړي.